# شريعت

ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسيس کال ۱۳۷۴ هـ.ش/ دوهم پړاو / ۴۱۷ ګڼه / شنبه ۲۰ رمضان‌الکريم ۱۴۴۵ هـ.ق / ۱۱ حمل ۱۴۰۳ هـ.ش / ۳۰ مارچ ۲۰۲۴ ميلادي


اوقات افطار و سحر به افق کابل

افطار: ۶:۱۵

سحر: ۴:۱۵

## بهرنيو چارو وزارت: صهيونستان هيڅ قوانينو او بشرپالنې ته ژمـــن نه دي

اسلامي امارت په اشغالي فلسطين کې د اسراييلو له لوري د نويو ښارګوټو جوړول په کلکو ټکو غندلي دي. بهرنيو چارو وزارت د يوې اعلاميې په خپرولو سره د صهيونيستي رژيم له لوري د اشغالي فلسطين اغوار پر ځمکو د صهيونستانو له خوا د ښارګوټو جوړول په کلکه وغندل. دغه وزارت وړاندې وايي: د صهيونيستي رژيم وروستۍ کړنې ښيي، چې اسراييل نړيوالو او په ځانګړې ډول بشرپاله قوانينو ته ژمن نه دي او د داسې يو اړخيزه اقداماتو دوام ۳مخ

## کار عملی پروژه تاپی تا چهار هفته دیگر آغاز خواهد شد



شیخ الحدیث شهاب الدین دلاور سرپرست وزارت معادن و پترولیم در دیدار با رئیس پروژه تاپی و سفیر ترکمنستان درکابل گفت: انتقال لوله گاز باید درهماهنگی با اداره محیط زیست افغانستان صورت گیرد و طوری باشد که به محیط زیست صدمه وارد نه شود. دفترمطبوعاتی وزارت معادن و پترولیم با نشر این خبر نگاشته است: در این دیدار، سرپرست آن وزارت در مورد پیشرفت ها و دیگر ص۳

## د خواف - هرات د وسپنې پټلۍ دويمې برخې ترون لاسليک شو

**شريعت:** د افغانستان د وسپنې پټلۍ اداري د خواف - هرات وسپنې پټلۍ د څلورمې قطعې د دويمې برخې جوړولو ترون د ۵۳ ميليونه او ۱۵۴ ډالرو په ارزښت د کاما ګروپ سره لاسليک کړ. دغه غونډه چې تېره پنجشنبه جوړه شوې وه، د افغانستان وسپنې پټلۍ اداري رئيس ملا بخت الرحمن شرافت او «کاما ګروپ» شرکت مشر ضياالرحمن فراهي، د رياست‌الوزرا د اقتصادي مرستيال ملا عبدالغني برادر آخوند، د بېلابېلو وزارتونو مسؤلينو، د سفارتونو نمايندګانو او د رسنيو استازو پکې ګډون کړی و. په نوموړې غونډه کې د وسپنې پټلۍ اداري رئيس ملا بخت الرحمن شرافت ووېل: د خواف - هرات د وسپنې پټلۍ افغانستان له ګاونډي هېواد ايران سره نښلوي چې څو کاله وړاندې يې د ۶۲ کيلو متره وسپنې پټلي رغول شوي وه، چې دا مهال پرې انتقالات کيږي. ښاغلي شرافت زياته کړه چې د خواف - هرات وسپنې پټلۍ د څلورمې قطعې د دويمې برخې جوړولو ترون ۵۳ ميليونه او ۱۵۴ ډالر ارزښت لري چې د روسيې فدراتيف يې تخنيکي ملاتړ کوي. د هغه په وينا، دغه مهمه پروژه چې ۴۷ کيلومتره اوږدوالی لري او افغانستان د سيمې او نړۍ له بېلابېلو ۳مخ



## سرمقاله

## د جهادي ارزښتونو په ساتنه کې اجتماعي هڅه په کار ده

له دې حقيقته هيڅوک انکار نه شي کولی چې افغانانو دخپل هېواد په ساتنه اودفاع کې خورا زياتې قرباني ورکړې اوله هريرغلګرسره يې په ډېره مېړانه مقابله کړې ده. که ډېر وړاندې نه ، بلکې همدا تېره څه باندې يوه نيمه پېړۍ را ياده کړو نو وينو چې انګريزانو درې ځله زموږ پر هېواد له خپل ټول زورو ځواک سره حمله کړې خو هرځل يې بې درکه ډېرزيانونه ورته رسېدلي اوپه شرمو شرمېدلي دي. بيا شپېته کاله لانه و پوره چې شوروي اتحاد يرغل وکړ، دانو هغه سوروحشي پوځ و چې آن ډېره ليرې امريکايي هم له ډاره لړزېدله، خو کله چې دشوروي او وارسا ترون ټول زور دلته اوبه اولويديځ والو ميدان خالي وليد نو تردوی فقط ديارلس کاله وروسته امريکې د ناټو په ګډون له اته څلوېښتواشر بانو لښکرو سره پرموږ بريد وکړ اوشل کاله يې زموږ په هېوادکې خپلې هرډول وسلې اورنګ په رنګ شيطاني پلانونه وکارول، بالآخره دوی هم ترډېرځاني اومالي زيانونو ګاللو وروسته وتښتېدل اوخپل يو شمېر کورني مزدوران يې هم ځان سره بوتلل. ښکاره ده چې په دومره مختصره زمانه کې په دې کچه پرېمانه اوسترې جګړې او ډول ډول پېښې حتماً ځان سره زښته ډېرې کيسې، خاطرې اونښانې هم لري. خو بايد متوجه اوسو چې د زمانې د چټک اوښتون ، پېچلتيا اومغرضو لاسوهنوله امله نوموړي يادښتونه له دوو خورا جدي ګواښونو سره هم مخ دي يعنی ورکه او تحريف . په دې معنا چې دا دی زموږ د سترګو پروړاندې زموږ ددې مهم پېر ژوندی نښاني له منځه ځي. د بېلګې په توګه دشوروي اوصليبي يرغلونو په جنګي اوسياسي ډګرونو کې موجود اشخاص يو يو زموږ له مخې فنا کېږي، دجګړو چې څه آثار پاتې و دخلکو په تصرفاتو سره کرارکرار له منځه ځي او بل لورته ځينې مخالف جهتونه لګيا دي هماغه د لمر په شان څرګند واقعيتونه تحريفوي اود نوي تخنيک پرمټ يې ثبت شوي زموږ نوي نسل ته سپاري.لکه همداوس چې زموږ کشر نسل ته څو بې ماهيته پرديپالې خبرې داتلانو په حيث ورمعرفي شوې دي. په هرصورت اوس چې هېواد خپلواک، موږ د يوملي حاکميت څښتنان او ترڅنګ يې دومره وسايل او توان هم لرو چې دخپلو جهادي آثارو او يادښتونو په ساتنه کې يې وکاروو، دا موپرغاړه يوه مهمه ايماني او ملي وظيفه ده چې ژر تر ژره او په اجتماعي توګه دغه چاره پرمخ بوځو او يوه ذره غفلت هم پکې ونه کړو. ددې موخې ترلاسه کولو لپاره ضروري ده چې دهېواد په ګوټ ګوټ کې د هرولايت او ولسوالۍ مسؤلين هم لاس په کاراوخپلو اړوندو سيمو کې دمهمو تاريخي نښانو د ساتنې لپاره ګړندي ګامونه واخلي اوکنه بيا به مو خپلو راتلونکو نسلونو سره ښکاره خيانت کړی وي.

## تاکید مقام‌های افغان و پاکستان بر جداسازی سیاست از تجارت



هیئت‌های افغان و پاکستانی، بر جداسازی سیاست از تجارت تاکید نموده، توافق کردند که موافقت‌نامه‌ی آپتا تا دو ماه دیگر نهایی گردد.در جریان گفت‌وگوها هیئت امارت اسلامی به سرپرستی نورالدین عزیزی؛ سرپرست وزارت صنعت و تجارت با هیئت پاکستانی به رهبری محمد خرم آغا؛ معین وزارت تجارت این کشور در کابل، دو طرف از تجارت جنس به جنس منصرف شده و روی ایجاد و توسعه‌ی روابط بانکی میان دو کشور، توافق کردند.بر اساس یک اعلامیه ذبیح‌الله مجاهد؛ سخنگوی امارت اسلامی گفته: پاکستان برای خرید ذغال‌سنگ افغانستان به قیمت جهانی نیز اعلام آمادگی کرده.ه در اعلامیه آمده است که دو طرف توافق کردند تا دوره‌ی آزمایشی تردد آزاد موترهای باربری میان دو کشور با سند ص۳

## کشف صدها قلم مواد غذایی تاریخ گذشته دربدخشان

این مواد، در جریان بررسی گروه بررسی کننده، از فروشگاه های شهر فیض آباد جمع آوری شده است.داکتر الهام الرحمن "ودودی" آمر غذا و ادویه بدخشان به‌آژانس باختر گفت"کارشناسان بازرسی غذا و ادویه در جریان بررسی از هفتاد و هشت فروشگاه و گدام‌ها، دو صدو بیست و شش قلم، مواد غذایی، بهداشتی و دوای بی کیفیت را کشف و گرد آوری کرد. ص۳


سيالي پکار ده ۲

د نيشنلېزم اوج، د ايران لري پرته سيمه (پنجشېر) ۲

افغان اعلانات ۳


## سازمان صحی جهان خواهان ادامه فعالیت‌هایش در افغانستان شد




معاون اداری ریاست الوزرا طی یک کنفرانس ویدیویی با مسوولان سازمان صحی جهان روی فعالیت‌ها وهمکاری‌های آن سازمان در افغانستان صحبت کرده است.ارگ در خبرنامه‌ی نوشته است: مولوی عبدالسلام حنفی، معاون اداری ریاست الوزرا طی یک کنفرانس ویدیویی با داکتر تدروس ادهانم گبریس رییس عمومی سازمان ص۳

## له ځانګړو قطعاتو څه باندې زرتنه منسوبين فارغ شول

دفاع وزارت په خپل ابکس ليکلي چې ځانګړي قطعاتو ۱۳۳۸ تنه منسوبين فارغ کړي دي. دا منسوبين پرون په يو شمېر ځانګړو مراسمو کې فارغ کړل چې په فراغت غونډه کې يې ګڼو حکومتي چارواکو برخه اخيستې وه. د دې فرقې مسوولينو هېوادوالو ته ډاډ ورکړی، چې داسې يو غښتلی او منظم پوځ به وروزي چې د اسلامي نظام او هېواد د ځمکنۍ بشپړتيا ساتنه به کولی شي. په دغو مراسمو کې د ملي دفاع وزارت د وسله وال پوځ لوی درستيز قاري فصيح الدين فطرت نويو فارغ شويو سرتېرو ته په خبرو کې ووېل: کوم امنيت او سوله چې اوس په هېواد کې حاکمه ده ستاسو برکت دی؛ ټول مشران او د هېواد وګړي ستاسو په احساساتو او سرښندنو وياړي.د يادو فارغانو له جملې څخه ۹۸۷ تنه له لومړنيو زده کړو او ۴۴۹ تنه د تخصصي ۳مخ

## باکيفيته کرنيزو او نباتي درملو په واردولو ټينګار

د کرنې او مالدارۍ معين، هېواد ته د باکيفيته او معياري کرنيزو او نباتي درملو پر واردولو ټينګار وکړ. هېواد ته د بې کيفيته درملو او واکسينونو د واردولو له امله د کروندګرو او مالدارانو له شکايتونو وروسته د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت د کرنې او مالدارۍ معين مولوي صدر اعظم عثماني د نباتي او حيواني درملو واردوونکو شرکتونو له مسئولينو څخه غوښتي چې باکيفيته او معياري درمل او واکسينونه دې وارد کړي. هغه د نباتي او حيواني درملو د واردوونکو شرکتونو له مسئولينو سره په ناسته کې ويلي دي: "کروندګر او مالداران له وارداتي درملو او واکسينونو شکايت کوي او دا زموږ مسئوليت دی چې کنټرول يې کړو؛ نو د شخصي ګټو لپاره بزګرانو او مالدارانو ته زيان مه رسوئ او بايد باکيفيته ۳مخ

## اصلي مېنو ته د ۳۰۰ راستنوشويو کډوالو لېږد



شاوخوا ۳۰۰ راستانه شوي هېوادوال، تېره اوونۍ په وړيا ډول خپلو سيمو ته لېږدول شوي دي.د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت په خپره شوې خبرپاڼه کې ويل شوي چې د دغه وزارت په مشرۍ د ټرانسپورټ کمېټې له لوري، د تېرې اوونۍ په بهير کې له تورخم او سپين بولدک ۳مخ

# سیالي پکار ده

**منیرفاروقي**

نن سبا عصر د ساینس او ټکنالوژۍ دی، موږ افغانان له هیچا په هیڅ شي کې کم نه یو، خو که کم یو د علم او ټکنالوژۍ برخه کې کم یو.

پوهېږئ! چې ولې د علم او ټکنالوژۍ برخه کې وروسته پاتې یو، زما په اند څو عوامل یې دا دي.

۱- که نورې نړۍ ته وګورو، هغو په تېرو څو لسیزو کې د افغانستان په نسبت د نا امنۍ څرک هم نه دی لیدلی او په خپل ټول ځواک سره یې کوشش کړی، چې خپل اولادونه په هرډول عصري او فني علومو سمبال کړي، خو بدبختانه موږ څخه دغه مسلم حق په تېرو څو لسیزو کې پردي پالو او اجیرو ډلو تپلو اخیستې و.

۲- همدارنګه په نوره نړۍ کې د کانکور په امتحان کې لوړه نمره د تعلیم او تربیې پوهنځي وي، ورپسې د طب، انجینرۍ، اقتصاد او داسې نورو وي؛ خو له بده قسمته زموږ په هېواد کې لوړه نمره د طب، انجینري او نورو دي، خو له ټولو ښکته او هغه نمره چې مازې یو کس پوهنتون ته پرې کامیابېږي، هغه د تعلیم او تربیې پوهنځی دی.

ګورئ وروڼو! زه سل په سلو کې په دې یقین او باور لرم، چې د نورو هېوادونو د ساینس او ټکنالوژۍ د بریا راز په دې کې دی، چې هغوی د کانکور لوړه نمره د طب او انجینرۍ پر ځای، تعلیم او تربیې ته ورکړې، ځکه هغوی دا فکر لري، چې که استاد/ معلم تکړه، با استعداده، مسلکي او پوه شخص وي؛ نو له خپل شاګرد څخه به هم یو تکړه مسلکي ډاکټر ساینسپوه، انجینر، اقتصاد پوه او نور اشخاص جوړ کړي؛ خو که برعکس زموږ د هېواد غوندې له ټولو کمه نمره کې په ډېکو تمبو د تعلیم او تربیې پوهنځي ته کامیاب شوي؛ نو د هغه استاد، شاګردان به څه بلاوې وي! هغوی که طب، انجینري او یا بل پوهنځي ته کامیاب شي، نو د هغوي طبابت او انجینري به څنګه وي!؟

زما په اند، زموږ د هېواد د وروسته پاتېتوب او محتاجۍ یو عمده او اساسي لامل بې علمي، کمزورې رهبري یعنې کمزوري استادان او د کانکور په امتحان کې د تعلیم او تربیې پوهنځي ته تر ټولو پوهنځیو په ښکته مقام کې ځای ورکول دي.

۳- یو بل عامل د وروسته پاتې والي، چې دا هم د دویم عامل اړوند دی، هغه دا چې موږ افغانان تل د طب او تخنیک په برخه کې ګاونډیو هېوادو ته اړ/محتاج یو، ځکه یو خو په دې برخه کې هیچا خدمت نه دی کړی او بله خبره دا چې مخکې مو اشاره ورته وکړه، هغه د مسلکي استادانو، ډاکټرانو، انجینرانو او ورسره یو ځای په مختللې ټکنالوژۍ سمبال ماشین آلاتو نشتون دی او همدارنګه د هېواد په ابادۍ، د معادنو په کېندنو او د نورو پروژو پر مخ وړلو لپاره د عصري ماشینډریو نشتون دی، چې د دغو شیانو نشتون د هېواد په وروسته والي کې مهم رول لري.

۴- بله دا چې د طب په برخه کې د ښځینه ډاکټرانو نشتون، دا هم د وروسته پاتې کېدو یو مهم لامل دی، چې زموږ هېوادوال ورسره لاس او ګرېوان دي. د یادې موضوع په اړه زموږ علماء فرمایي، چې د اسلام له نظره د ضرورت په اساس مېرمنې کولی شي نارینه ډاکټر ته ولاړې شي او خپل علاج وکړي، آن که ضرورت پېښ شي، نارینه ډاکټر د ښځې هر ځای لیدلی او لمس کولی شي. دا منم، چې د اسلام له نظره کوم باک نه لري او نارینه ډاکټر د ضرورت پر مهال د ښځینه ناروغې هر ځای لیدلی او لمس کولی شي؛ خو زه وایم، چې ولې موږ دغه ضرورت ته لاره هواره کړو. ددې پر ځای چې ښځینه ډاکټرانې ورځ په ورځ کمې نه شي، باید روزلو ته یې لا ډېره توجو وکړو.زموږ افغان مېرمنې د حیا او شرم له وجې خپل مشکل نارینه ډاکټر ته نشي ویلی او ښځینه ډاکټرې ته یې ویلی شي. د ښځوځینې داسې مرضونه دي، چې هغه پرته له ښځینه ډاکټرې یې نارینه ډاکټر ته نشي ویلی او نه یې ورښکاره کولی شي، که له هغه مرضه مړه هم شي؛ نارینه ډاکټر ته یې نه وایي.

ایا دا به مناسبه وي چې یوه باحیا او باعزته افغان مېرمن دې د خپل مشکل حل کولو په نیت اولاً دلته په هېواد او وروسته بیا په ګاونډي هېواد کې د رنګارنګ بې حیایۍ او تکالیفو سره مخ شي، هغه هم ددې لپاره چې په هېواد کې یې ښځینه ډاکټره نشته. قضاوت په خپله وکړئ. دا خو ولاکه د چا ایمان مني، نه غیرت او نه هم پښتو.

په اخیره کې ټولو افغانانو وروڼو نه هیله کوم، چې د خپل هېواد په ابادۍ کې د سیلانو سره سیالي وکړئ او یادې نیمګړتیاوې په خپل اخیري توان او طاقت سره پوره کړئ.

# تاکید علما بر انفاق در ماه مبارک رمضان

**داوود ناظری**

روز پنجشنبه در مراسم توزیع بسته های افطاری و کمکی از سوی بنیادخیریه آیت الله عظمی فیاض در برچی- کابل، سخنرانان گفتند انفاق در ماه مبارک رمضان، هزار برابر اجر و پاداش دارد و مردم نباید از این ثواب بزرگ بی بهره شوند. در این مراسم که برای حدود ۷۰۰ خانواده بسته کمکی شامل آرد، برنج، روغن و خرما توزیع گردید، گفته شد که کمک به نیازمندان اجر عظیم محسوب می‌گردد و سبب نجات انفاق کنندگان از آتش دوزخ می‌شود.

حجت الاسلام فهیمی ناهوری مسئول اجرایی دفتر بنیاد خیریه آیت‌الله فیاض به روزنامه شریعت گفت، در ماه مبارک رمضان برای ۲۳ هزار خانواده از طرف آنان کمک صورت گرفته و از طریق ۲٤ باب نانوایی نیز برای بیش از یک هزار خانواده روزانه نان خشک توزیع می‌گردد. وی تاکید کرد که کمک به فقرا باید نهادینه شود و از نظر دین اسلام دارای اجر و پاداش فراوان است.

محمدظاهر مظهری از فعالین اجتماعی به روزنامه شریعت گفت، کمک به به فقرعلاوه براجروثواب بلکه سبب ایجاد امن و نظم در جامعه می گردد و مال ثروت‌مندان نیز در امان است. وی گفت کمک و تعاون می‌تواند در کاهش فاصله های اجتماعی و اقتصادی نیز کمک کند.

حجت الاسلام محمد داوود حکیمی یکتن از عالمان دینی به روزنامه شریعت گفت، از نظر آیات و روایات، هر فرد مسلمان مکلف به تعاون و همکاری با یکدیگر هستند. به گفته ایشان هر عمل صالح در این ماه، هزار برابر اجر و پاداش دارد.

# د نیشنلېزم اوج، د ایران لرې پرته سیمه (پنجشېر)

**خالق یار احمدزی**

تېره ورځ یوې نفاق ګرې رسنۍ د دریو هغو افغانانو ویډیو خپره کړه، چې د ایران د مذهبي مشر په حضور کې یې شعرونه دکلمه کول او له ایراني لوري سره یې د خپلو مشترکاتو اظهار په کې کاوه.

د شاعرانو په سر کې د نجیب بارور په نامه یوه ځوان هم خپلې کړۍ د یوې لنډې مقدمې په اینښوودلو سره پیل کړې.

داچې نوموړی څنګه مخینه لري او د کومې ایډیا سړی دی، په هکله یې څه ویل لازمي نه بولم، خو نوموړي د ایراني مشر په وړاندې د خبرو په سریزه کې خپل شهرت په لړزېدلي غږ شریک کړ او زیاته یې کړه چې دی د «ایران له لېرې نقطې یعنې د هندوکش له هسکو او پنجشیر څخه راغلی دی».

نجیب بارور د ایران مذهبي مشر د «فارسي ژبو» رهبر یاد کړ او زیاته یې کړه چې غواړي مجلس ته هغه څه واوروي چې د ښاغلي خامنه یي له عزت سره ښایي او د پنجشیریانو نظر په کې څرګند شوی وي.

«من ازدورترین نقطه ایران؛ قله های هندوکش، یعنی پنجشیر آمده ام؛ میخواهم پیش رهبر همه فارسي زبانان جهان چیزی بخوانم که شایسته شرف حضرت عالي و بیانګر دیدګاه ما پنجشیری‌هاباشد»

بارور په وارخطایي خپل غزل پیل کړ، خو وروسته یې په لوړ غږ پای ته ورساوو؛ هغه غزل چې نه یې معنویت درلود، نه کومه لفظي او هنري ښکلا په کې نغښتې وه او نه هم.... ؛ بس نفاق اچوونکو رسنیو یې یواځې د نوموړي او ایران تر منځ د مشترکاتو د اظهار له امله ویډیو ته پوښښ ورکړ.

دلته څو خبرې دي.

آیا د نیشنلیزم /قوم پرستي رېښې لا هم دلته شتون لري؟ که یې لري څوک یې په غځولو کې مرسته کوي او څنګه یې باید لمنځه یوسو؟

نیشنلیزم چې له کبله یې په لویه کې د عربانو او ترکانو تر منځ اختلافات راوپنځول شول او پایله کې یې عثماني خلافت نسکور شو؛ آن د پایښت او ودې ورکولو لپاره یې وخت پر وخت دښمنو کړیو مسلمان ملتونه په خپلو منځونو کې په لانجو ککړ کړي او د هېوادونو د قومونو په منځ کې یې شیطاني، سرطاني غدې زېږولي؛ هغه بد ناسور دی، چې تر اوسه ترې د نړۍ هیڅ قوم په ځانګړې توګه افغانان ښه ورځ نه لري.

نیشنلیزم همدا وه چې تر پرونه یې د لر او بر په نامه پښتانه ته د اتحاد په نوم دوکه ورکوله، خو څرګنده شوه چې دواړه لوري په همدې سراب غلط او د خپل قام د بقاء لپاره تندغري د شا لخوا په خنجر وهل کېږي.

د لر پښتانه که څه هم پوهېدلي چې نیشنلیزم یواځې ډرامه او لوبه ده، نو یې د قومپالنې پر ځای نورو لومړیتوبونو ته کار ویلی، خو د بر پښتون لا هم هغوی خپل تن او غوښې بولي.

هو! نیشنلیزم همدا وو چې د پاکستان isi یې تر عنوان لاندې د عوامي نیشنل او بیا د منظوریانو په نامه استخباراتي ډلې او خوځښتونه جوړ کړل او د پښتون تحفظ په بهانه یې هم مسلمان پښتون بې اتفاقه، هم یې بې ننګه او هم یې د سیاسي پرلتونو، انتخاباتي لوبو او آن په سینمایي ډرامو کې د بې حیایۍ بازارونو ته وړاندې کړل.

نیشملیزم همدا وو چې شل اشغال کې عفیفې حیاداره افغان خویندې د ستاره افغان او نورو فحاشو برنامو او سریالونو په چټل چاپیریال کې ونخول شوې او د پردیو د ساتیرۍ لپاره یې له نارینه وو سره د ګډو بابولالو سرېندې ویاړ وباله.

نیشنلیزم همداکانې وکړې چې په شمال کې میشتو افغانما څېرو ته ځان دومره لوی او پر ځان باورې ښکاره شو، چې مخامخ یې د تجزیې ګواښونه پیل کړل او د خپل دېوال شریکي افغان ورور پر ځای یې، له سرسختو ګاونډیانو سره داتحاد لاسونه وړکول.

نیشنلیزم هغه آفت شو، چې د هیواد رسمي ژبو کې یې د پردیو لغتونو د ترویج لپاره په مرګ کمپاین وکړ او اغېز یې تر دې کچې وو چې وروسته یې بیا آن په تذکره کې د افغانیت پر کلمه هم د شرم احساس کاوه.

پردیو ته د نیشنلیزم ارمغان همدا وو چې د شمال ازبیکان له آذربایجان سره په ګډه، د لویې ترکیې لپاره زیار وکاږي، تاجیکو بیا د لوی خراسان خوبونه لیدل او پښتنو بیا د پراخ پښتونستان....!

خو دا ټولې هغه ورۍ وې، چې دښمنانو یې تر پایه د شړۍ کیدو فرصت ور نکړ او یواځې یې افغانان د یوه او بل ګرم شوي نغري ته کېنول.

هو! موږ که غواړو له مختلفو قومونو ترکیب شوی ښایسته افغانستان ولرو، باید د مختلفو قومونو وروڼه خپل د کورنۍ غړي وبولو، په دین او عقیده شریک ته اولویت ورکړو او د هغو ډلو ټپلو پلانونو ته هیڅ مهلت ورنکړو چې غواړي دا خاوره د مختلفو قومونو په نوم ووېشي.

نیشنلیزم چې د هیواد، ژبې او قوم پالنې ته ویل کېږي، په کفري نړۍ کې ورته هیڅ ارزښت نشته او د واحد مسلمان پر وړاندې یو دریځی دی، خو موږ یو چې لومړی کلیوال تربور د پولې د شراکت له امله بد ګڼو، بیا تر هغه وروسته په قومونو او خیلونو کې سره وران یو، وروسته مو ژبې سره بیلوي او بیا په آخر کې مو ولایتونه او ولسوالۍ...

غواړو په هیواد کې مو هزاره ورور له پښتون نه ځان قربان کړي، پښتون له تاجیک او همداسې....؛ د یوه کور او کورنۍ فکر وکړو؛ نو سر له ننه باید د هغو کسانو، ډلو ټپلو او خوځښتونو مخه په کلکه ډب کړو، چې غواړي افغانانو کې دا بدمرغه تخم نهادینه کړي.

# د قران پسرلی د تاریخ پر لاره

**حبیب الرحمن رحیمي**

رمضان المبارک د سپوږمیز کال نهمه میاشت ده چې دروژې نیول په کې فرض دي، هر نېک عمل د نور وخت په پر تله په کې اویا چنده زیات ثواب لري روژه د اسلامي تاریخ په بهیر کې له واقعو څخه ډکه میاشت ده ،له ځان سره زیات شمېر مشهورې پېښې لري . بدر غزا، د اسلام په تاریخ کې لومړۍ غزا ده چې د هجرت په دویم کال د همدې مبارکې میاشتې په اولسمه پېښه شوې ده او د مسلمانانو په بریا پای ته رسېدلې ده . د مکې فتحه ،د هجرت په اتم کال کعبه شریف د همدې میاشت پر برکت د روژې په شلمه فتحه شوه او همدې فتحې ته فتح مبین ویل شوي دي. دعزی بت نسکورېدل ، قریشو د جاهلیت په زمانه کې دری خدایان لرل یو یې هم عزی بت و چې د مکې معظمې له فتحې وروسته د خالد بن ولید لخوا له منځه یوړل شو . خدیجه رض وفات ، ام المؤمنین خدیجه رض د رسول آلله (ص)لومړنۍ مېرمنې د هجرت څخه دری کاله مخکې د روژې په لسمه خپله روح حق ته وسپاره ، په دې کال د نبي(ص) کاکا (ابو طالب ) هم د خپل ژوند پور پرې کړ همدا څه د دې لامل شول دا کال په اسلامي تاریخ کې عام الحزن په نوم یاد شوی دی. منصوري جګړه ، دا جګړه ٦٤٨ کال د روژې په لسمه د مصر د ښځینه واکمنې صالح ایوب مېرمنې صلیبیانو ته ماتې ورکړه او دا جګړه مسلمانو وګټله. عبور جګړه،۱۹۷۳کال د اکتوبر شپږمه چې د ۱۳۹۳سپوږمیز کال د روژې د لسمې سره برابره ده ، د عبور جګړه د مصریانو او یهودیانو تر منځ وشوه او پایله یې د مصري پوځیانو بریا وه.... . په ټولو کې لویه واقعه، د الله (ج)لورینه٬الهي ذکر، نبوي معجزه او د بشریت د لارښوونې د جامع کتاب (قران کریم ) نزول دی ،کوم چې په ۲۳ کلونو کې زموږ پر خوږ پیغمبر حضرت محمد(ص) د کاینات د ستر مالک( ج) لخوا د جبریل امین (ع)پواسطه نازل شوی دی. همدا الهي کتاب چې له هر ډول شک ا و شبهې څخه خالي دی،د همدې کتاب پواسطه نور کتابونه منسوخ شوي، ۳۰ سپارې ، ۱٤سجدې ،۷منزلونه، ۱۱٤سورتونه، ٥٤۰ رکوع ګانې او ٦٦٦٦ایتونه لري . څرنګه چې د هرڅه پیل له پسرلي کېږي، حال داچې د فرقان نزول په رمضان میاشت کې شوی دی او د همدې مخې روژې ته د قران پسرلي نوم ورکړل شوی دی.

# مدینې پر لور

**پنځمه برخه-لیکوال: سید ابوالحسن ندوي رحمه الله ژباړن: محمدصادق طارق**

### علامه اقبال د پیغمبر په ښار کې:

د اسلامي نړۍ شاعر او د خپلې پیړۍ ستر فیلسوف محمد اقبال خپل ټول ژوند د اسلام د ستر پیغمبر په مینه او د هغه ښار ته د رسیدلو په هوس کې تېر کړ. هغه به په خپل ماندګارو اشعارو کې تل د دغو دوو محبوبو یادونه کوله خو د ژوندون په وروستیو ورځو کې یې د محبت جام لبریز شو؛ هر کله چې به یې د مدینې نوم تر غوږ شو د شوق رنې اوښکې به یې بې واکه تر سترګو روانې شوې. هغه په خپل ډنګر وجود چې له ډېرې اوږدې مودې په بېلابیلو ناروغیو کې ښکیل ؤ و نه توانید چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم په زیارت مشرف شي خو په خپل بې تاب او مشتاق زړه یې د خوږو شعرونو په ژبه د تخیل په واک څو ځلې د حجاز خاورې ته الوتنه وکړه او د فکر مارغه به یې تل د حجاز په ځاله کې ناست ؤ. هغه د رسول الله صلی الله علیه و سلم په مخکې د هر هغه څه اړوند چې زړه، ارادت، وفا او اخلاص ترې غوښتل خبرې وکړې او د أبرارو سردار ته یې د خپل ځان، خلکو او ټولنې په اړه ویناوې وکړې. په همدې کار کې یې شعري ذوق طغیان وکړ او هغه حقایق چې زمام ورنه یې ټینګ کړی ؤ او د داسې فرصت انتظار یې ورته ګاله، منفجر شول او له ځان سره یې داسې وویل:

**به حرفی می‌توان گفتن تمنای جهانی را**
**من از شوق حضوری طول دادم داستانی را**

د رسول الله صلی الله علیه و سلم اړوند د اقبال شعرونه تر ټولو فصیح، غښتلي او مؤثر اشعار دي چې د هغه د افکارو، عقایدو، عمل، تجربې او د هغه د عصر انځور او د لطیفو احساساتو او عواطفو تعبیر له ځان سره لري.

هغه د خیال په نړۍ کې مخ پر مکې او مدینې کوچ کوي، په همدې تصور د مینې له کاروان سره یو ځای پر ریګنې او نرمې خاورې مزل کوي او د محبت او زیات شوق له امله انګیري چې ریګ تر ورېښم نرم دي بلکه داسې ګومان کېږي چې د رېګو هره ذره ژوندۍ زړه دی چې دربیږي نو ځکه له ښاروان څخه غوښتنه کوي چې ورو او قرار لاړ شي او پر همدا دردمنو او ژوندیو زړونو رحم وکړي.

**چه خوش صحرا که شامش صبح خند است**
**شبش کوتاه و روز او بلند است**
**قدم ای راه‌رو آهسته‌تر نه**
**چو ما هر ذره‌ای او دردمند است**

کله چې د ښاروان نغمه په غوږ کې ورته تاو شي، شوق یې لمبه او د زړه زخمونه یې تازه شي، په ټول وجود کې یې د ژوندون څپې او حرارت جریان پیدا کوي او پر ژبه یې خورا بلیغ اشعار له سوز او درد سره یو ځای جاري کېږي.

وروسته د رسول الله صلی الله علیه و سلم حضور ته د سعادت په ویاړ ویاړمن کېږي، له درود او سلام وروسته فرصت غنیمت ګڼي او ورسره د زړه خواله کوي؛ د اسلامي نړۍ او مسلمانانو حالات، مسائل، ستونزې، د نوې نړۍ واقعات، د غربي تمدن لاس ته راوړنې، مادي فلسفې، د امت سرګرداني، د بارزو ځانګړتیاوو له لاسه ورکول او د خپل رسالت هېرول ټول ورته په ګوته کوي، کله یې له سترګو اوښکې روانې شي، کله په وطن کې له خپل غربت او په ټولنه کې له خپل یوازېتوب څخه شکایت کوي او کله یې د زړه خبرې په ژبه راشي.

اقبال خپل د اشعارو دغه ټولګه د «ارمغان حجاز» په نوم نوموليې ده. داسې یې انګیرلی لکه چې له حجاز څخه یې خپلو ملګرو او شاګردانو ته دغه ډالۍ په ارمغان راوړې وي. له شک پرته دا کتاب ټولې اسلامي نړۍ ته مبارک ارمغان او د حجاز له نسیمونو څخه خوندور نسیم دی.

**نور بیا** ...

# Shariat Daily

Shariat
Published by
Islamic Emirate of Afghanistan
M. Ebrahim Nabil ، Director of Gov.dailies
0782080666
Chief Editor : Farooq Ghaljai/ 0778635852
Email: info@shariatdaily.com
WWW.shariatdaily.com ویب سایت:

شریعت
د لیکوال هیئت تر نظر لاندې
د دولتي ورځپاڼو عمومي رئیس:
م محمد ابراهیم نبیل ٠٧٨٢٠٨٠٦٦٦
مسؤل مدیر: فاروق غلجی/ ٠٧٧٨٦٣٥٨٥٢
د شریعت برېښنا لیک: info@shariatdaily.com
پته: د بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ - د اطلاعاتو او کلتور وزارت نوې ودانۍ
**شماره توزیع و شکایات:** ٠٢٠٢٣١٢٥٠٩ / ٠٧٦٦٠٤٤٩٦٦/ ٠٧٣١٦٠٦٠٧٣

Saturday 30 March 2024 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 417


## کورنیو چارو وزارت: تېر کال د امن له پلوه بې ساری و



**شریعت:** د افغانستان د کورنیو چارو وزارت وايي که څه هم د تېر کال په وروستۍ نیمايي کې د هېواد په بوشمېر ولایتونو کې د امنيتي پېښو رامنځته کېدل مني خو په ټوله کې ۱۴۰۲ لمریز کال د امنیت له پلوه خوندي کال بولي. د کورنیو چارو وزارت ویاند مفتي عبدالمتین قانع د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو په مرکز کې جوړې شوې خبري غونډې ته وویل، سره له دې چې د تېر کال په وروستیو شپږو میاشتو کې په یو شمېر ولایتونو کې ځینې امنيتي پېښې وې خو په ډېری ولایتونو کې د دغسې پېښو نه رامنځ ته کېده په تېرو څو لسیزو کې بې ساري چاره وه. مفتي عبدالمتین د غونډې په اوږدو کې د امنیت په اړه له داډ ورکولو سره سره وویل، چې په دغې موده کې د کورنیو چارو وزارت امنيتي منسوبینو په ټول هېواد کې څه باندې ۸ زره جنایي پېښې ثبت کړي او پدې تړاو یې شاوخوا ۱۲ زره شکمن کسان هم نیولي دي. هغه زیاته کړه: «په شپږو میاشتو کې په ټول هېواد کې ۸ زره او ۷۴۸ جنایي پېښې ثبت شوي، چې ۷ زره او ۲۲۳ یې پولیسو کشف کړي او پاتې د کشفي ځواکونو تر څار لاندې دي. د ثبت شویو پېښو په تړاو ۱۲ زره او ۵۴۰ تنه شکمن کسان نیول شوي». یوازې امنيتي او جنایي ۳مخ

## اداره پاسپورت بادغیس، ۱۵۳ میلیون افغانی عاید کرده است




اداره پاسپورت بادغیس در یک سال گذشته، یک صدو پنجاه وسه ملیون افغانی عاید داشته است.این عاید درجریان سال گذشته ازدرک توزیع بیست وهشت هزار وهفت صدو هشتاد و چهار پاسپورت به شهروندان، به دست آمده است.صدیق الله صدیقی سخنگوی پولیس بادغیس به آژانس باخترگفت که درجریان سال گذشته ۳مخ

## ممنوعیت واردات نمک به افغانستان


معین وزارت معادن و پترویم در دیدار با قراردادیان معادن نمک گفت: واردات نمک به کشورکاملا منع گردیده است، قراردادیان و مالکان فابریکه های نمک از این فرصت برای رشد کار و بار شان استفاده کنند.دفتر مطبوعاتی وزارت معادن و پترولیم با نشر این خبر گفته است:قراردادیان معادن ، مالکان فابریکات نمک و اعضای اتحادیه کار خانه های تولید نمک با شیخ ضیاالرحمن الاریوبی معین پلان و پالیسی آن وزارت دیدار کردند.معین پلان و پالیسی وزارت معادن وپترولیم به قراردیان و معدنکاران نمک گفت: که واردات نمک کاملا منع گردیده است، قراردادیان و مالکان فابریکات نمک، این فرصت راغنبمت بدانند و با صداقت و ایمان داری کامل نمک را استخراج، پروسس و تولید نموده در بازارهای کشور عرضه نمایند. قراردادیان و معدنکاران نمک از این اقدام امارت اسلامی ابراز خورسندی نموده تعهد سپردند که به تقاضا و نیازمندی های هموطنان خویش رسیده گی خواهند کرد. ۳مخ

## ټرافیکي پېښو تېر نیم کال نږدې زر تنه مړه کړي وو



د کورنیو چارو وزارت وايي چې په تېرو شپږو میاشتو کې په ټول هېواد کې د ترافیکي پېښو له امله ۹۴۹ کسانو ژوند بایللی دی.
د یاد وزارت ویاند، عبدالمتین قانع په یوه خبري غونډه کې ویلي چې په تېرو شپږو میاشتو کې ۱۹۷۸ ترافیکي پېښې ثبت شوې دي.
د کورنیو چارو وزارت ویاند همداراز ویلي چې په ټول هېواد کې د دغو پېښو له امله ۹۴۹ کسان مړه شوي دي.
بلخوا د کابینې په وروستۍ غونډه کې اړوندو ادارو ته دنده سپارلې چې په هېواد کې د ترافیکي پېښو د مخنیوي لپاره پلان ترتیب کړي.
په دې غونډه کې د سترې محکمې او د ترانسپورت، هوایي چلند او فواید عامې وزارتونو په همغږۍ د کورنیو چارو وزارت ته دنده وسپارله چې په لویو لارو کې د موټرو د سرعت د معلومولو په خاطر لازم ترافیکي پلان او تجهیزات چمتو کړي. ۳مخ

## میرویس ښارګوټي کې څه باندې سل جریبه ځمکه له غصبه ازاده شوه



عدلیې وزارت ویلي، د ځمکو له غصب څخه د مخنیوي کمېسیون په کابل ښار کې د میرویس ښارګوټي څه باندې ۱۰۰ جریبه امارتي ځمکه استرداد کړه.د ځمکو له غصب څخه د مخنیوي او دغصب شویو ځمکو د استرداد کمېسیون دامارتي (سلطاني)، عامه مرعي او وقفي غصب ۳مخ

## کشف اثار تاریخی و باارزش در مهترلام



مقامات محلی لغمان از کشف چند اثرتاریخی در لغمان خبر دا ده است. این آثار، ازیک ساحه ی باستانی در دره ی کلمان ولسوالی الینگار در جریان کاوش های مردمان محل به دست آمده بود.مولوی عبدالنور رسولی رئیس اطلاعات و فرهنگ لغمان به آژانس باختر گفت که این آثار، شامل ص۳

## تلاش برای زمینه سازی بیشتر سرمایه گذاری در پروان



رئیس صنعت و تجارت پروان با معاون اطاق تجارت و سرمایه گذاری و رئیس اطاق پیشه وران افغانستان دیدار کرد.در این دیدار روی فعالیت اطاق تجارت و سرمایه گذاری، زمینه سازی و فراهم آوری تسهیلات لازم برای سرمایه گذاران، آماده نمودن پارک های صنعتی برای تاجران، تشویق و ترغیب تاجران برای سرمایه گذاری در این ولایت بحث و تبادل نظر ص۳

## کار ساخت یک شفاخانه در کلات آغاز شد

کار ساخت یک شفاخانه در مرکز زابل آغاز شد.این شفاخانه ، در ساحه ی باباگک شهر قلات ساخته می شود. گفته می شود این شفاخانه، بخش های داخله، اطفال، نسایی و ولادی، جراحی و رسیدگی به مریضان سرآپا را دارا خواهد بود.کمشنری عالی سازمان ملل در امور پناهندگان، برای ساخت این شفاخانه، سه صد هزار دالر هزینه می کند.رئیس صحت عامه ی زابل به آژانس باختر گفت که با ساخت این شفاخانه، هزاران خانواده ی محل و محل های اطراف، دیگر نیاز نخواهند داشت تا برای رفع چالش های صحی شان به جای دیگر بروند.


## رویدادهای خارجي

### د صهیونستانو بریدونو کې لسګونه سوریایان وژل شوي



د اسراییلي اشغالګرو په تازه بریدونو کې لسګونه سوریانو خپل ژوند بایللی دی.رویترز ویلي چې د جمعې په سهار د سورېې په شمال کې پر حلب ښار باندې د اسراییلو په بریدونو کې د لبنان حزب الله ډلې د پنځو غړو په ګډون شاوخوا ۳۸ کسان وژل شوي دي.د سورېې خبري اژانس د یوې پوځي سرچینې په حواله ویلي چې د حلب په جنوب ختیځ «أثریا» سیمه کې د اسراییلي دښمن له لوري د هوايي برید په ترځ کې یو شمېر ملکي وګړي او پوځیان وژل شوي دي. یاد آژانس د وژل شویو کسانو کره شمېره نه ده په ډاګه کړې. الجزیرې تلوېزیون د یاد آژانس له قوله خبر ورکړی، چې د یاد تېري په پایله کې یوشمیر ملکي وګړي اوسرتېري وژل شوي او ټپیان شوي او عامه او شخصي ملکیتونو ته مالي زیانونه اوښتي.د راپورونو په بنسټ صهیونستانو اوربند ته غاړه نه ږدي او خپل بریدونه یې لا زیات کړي دي.

### دوشنبه: مسکو کې د برید په تور مو ۹ کسان ونیول



د تاجیکستانی چارواکو مسکو ته نږدې د کنسرټونو پر یوه هال د تېرې جمعې د برید په تړاو د نهو کسانو د نیولو خبر ورکړ. ویل شوي دغه نهه کسان د دوشنبې ښار په وحدت کلي کې تېره دوشنبه نیول شوي دي.دوشنبې پرون د دغو نیول شویو کسانو خبر ورکړی دی.د تاجیکستان د قانون د تنفیذ اداري تېره سې شنبې هم د یاد برید د پلان په شک د شپږو کسانو د نیولو خبر ورکړی و.د روسیې په پلازمېنه مسکو کې یوه برید شاوخوا ۱۵۰ تنه ووژل او لسګونه نور یې ټپیان کړل.

### متوقف شدن کار دوبند بزرگ آب در پاکستان



بعد از کشته شدن پنج انجنیر چینائی در پاکستان ، قراردادی های چینائی کار ساختمانی بر دو بند بزرگ آب پاکستان داسو و دیامیر بهاشا را متوقف کردند. مقامات چینائی دیروز به خبرگزاری فرانسه در این مورد معلومات دادند. چند روز پیش در منطقه شنگله ایالت خیبرپختونخواه در یک حمله پنج انجیر چینانی و راننده پاکستانی آنها کشته شدند.
یک مقام پاکستانی که نخواسته نامش گرفته شود به خبرگزاری فرانسه گفته شرکت های چینائی خواسته اند که قبل آغاز کار دوباره، پاکستان برنامه های نو امنیتی را در مناطقی که بازسازی میشوند، طرح نماید.
در این ساحات ۱۲۵۰ کارمند چینائی مشغول کار هستند.

**توجه !**

**ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بی‌حرمتی بگذارید!**